

پوهاند محمدبشیردودیال

# نفوس اود نفوسو مسایل

**(دنفوسو د نړیوالی ورځې په مناسبت)**




د جولای یوولسمه/دچنګاښ شلمه د نفوسو نړیواله ورځ ده. دغه ورځ د لومړی ځل لپاره په ۱۹۸۹م. کال کې دملګروملتونو(م.م.)دپرمختیا د پروګرام( UNDP) له خوا د ځمکې د اوسیدونکو وضعیت ته په کتنې او دنفوسودمسایلو مبرم ګڼلو(enhance awareness of population issues) په موخه په نښه او د۱۹۹۰کال د م.م. دعمومي اسامبلې د پریکړې له مخې یې لمانځنه هرکال کیږي. په دې مناسبت د دیموګرافی او د نفوسو د مطالعاتو (Demography & Population studies) پوهان او څیړونکی په دې برخه کې دخپلو علمی څیړنو نتایج نشروي، د نړۍ د اوسیدونکو وضعیت باندی رڼا اچول کیږی؛ په تیره بیا د غذایی خونیدتوب، چاپیریال، مهاجرتونو، ناروغی، ځانوژنې، ناوړه تغذیې، په هواکی د کاربن دای اکساید او نورو مضره ګازونو او په خاوره او اوبوکی د ګڼ شمیر مضره کیمیاوی توکو ګډیدلو، د روغتیایی او پاکو اوبو قلت، ښوونه اوروزنه او داسې نورو مسایلو باندی خبرې کیږي، چېدنفوسو پرژوند او د هغوپرکیفیت سیده اغیز لري. م.م. په دې موخه له ۱۹۶۹م. کال را دیخوا د نفوس صندوق **United Nations Population Fund (UNFPA** هم رامنځته کړی دی.

**نفوس یعنې څه؟**په یوه ټاکلی وخت کې،یوه ټاکلی وربوی کې د خلکو شمیر. په دې توګه د ولسوالی نفوس، دولایت نفوس او د هیواد له نفوس څخه خبرې کولای شو. خو نفوس سیاسی مفهوم لری. یعنی د یو دولت د درې نورو عناصرو(ټاکلوسیاسی سرحداتو، حاکمیت او استقلال) سره یو ځای د دولت حتمی څلورم عنصر دی. له دی پلوه د یو هیواد نفوس ټول هغه وګړي دي چې په یوه ټاکلی جغرافیایی ساحه کې دټاکلو حقوقي اړیکو(ولسی پیوستون) په واسطه راټول او د یوه دایمی دولت تر مشری لاندې په ټاکلي سیاسی قلمرو کې په ګډه ژوند کوي.

افغانستان د ملګرو ملتونو د لومړنی غړی په توګه؛ دغه ورځ خپله رسمی کلیز کې لري او په کار ده چې په دې اړه د خپل هیواد د اوسیدونکو څوروونکی حالت له نظره تیر کړو:


همدا اوس د نړۍ پر مخ ۷۹۰۰۰۰۰۰۰۰تنه ژوند کوی، یعنی د ۲۰۲۱کال له پیل څخه دنړی نفوس له اووه بیلیونو څخه واوښت،تر ۲۰۲۵ کال پورې به ۸ بیلیون ته ورسيږي . له شپیتمی میلادی لسیزی وروسته د روغتیایی خدماتو په ښه کیدوسره په اوسط ډول د۱۹۶۰ و ۱۹۷۰کلونو ترمنځ د نړۍ دنفوس کلنۍ ودهپه سلو کې له۱,۸ څخهتر۲,۳پورې ورسیده. په تدریج زیاترو هیوادو( په تیره بیا اروپا کی) د کورنۍ پلان په تطبیق طور اوسط د نفوسو کلنۍ وده تر۲۰۱۱پورې په سلو کې۱,۱ حدودو کې وساتله، خو ډیرو وروسته پاتې او پرمختیایی هیوادو کی دا عدد ۲،۷شاوخواو. افغانستان هم په دې ډله کې راځي. دا دنفوسو یوه ګړندۍ وده ده. په ۱۳۹۹ل. کال کې د افغانستان نفوس ۳۲،۹ میلیون تنه تخمینشو چې په سلو کې ۵۱نارینه او پاتې ۴۹ یې ښځینه دي، اوس هم زیاتره نفوس کلیوالی ژوند لري. له بلې خوا دافغانستان دنفوس څیره د بل هرهیواد په پرتله ځوانه ده، دا ځکه چې تولدات زیات او ورسره یوځای له ۵۰کلنۍ څخه دپورته عمر مړینی ډیرې زیاتې دي. ممکن دافغانستان شپاړس میلیونه اوسیدونکی په دغه هیواد کې دمنل شوی قانونی ۱۸کلنۍ سن څخه کم عمر ولری او له ۶۵کلنۍ څخه پورته عمر(دتقاعدی سن) وګړی به صرف په سلو کې درې وي، خوعملاً دبیوزلۍ او مجبوریت له مخې دغه دواړه عمرونه په کار بوخت دي( دغه ارقام واقعی نه، بلکې تخمینی دي). دا په داسې حال کې چې دنفوس کیفیت په بدترین وضعیت کی دی. که دافغانستان تخمینی سنی هرم وګورو لاندې شکل به ولری:





کابل، بلخ، کندهار، ننګرهار، لوګر، هرات او هلمند ډیر نفوس لرونکی ولایات دی. په دی توګه دنفوسو تراکم ډیر غیر متجانس دی. د نفوس کثافت (density) په هره سیمه کی توپیر کوی. هیواد کی بیوزلی، جګړو او بهرنی او کورنۍ مهاجرت دنفوس وضعیت نور هم ډیر پریشانه کړی دی. په هیواد کی د نفوسو کلنۍ وده د ملی اقتصاد او ملی عاید د ودې په پرتله زیاته ده، یعنی هیواد ضعیف اقتصاد لري. دهیواد دطبیعی منابعو اټکل ډیر زیری ښونکی دی، کافی سیندونه، کرنیزی زمکې، کانونه، مساعداقلیم (سره له متنوع مایکروکلایمنټونو)، دلمر کافی وړانګې، جیواکونومیکی او جیوپولټیک ستراتیژیکی موقعیت او ډیر نور مساعد شرایطلري، خو د څلویښت کلنوتحمیلی جنګونو اوبی کیفیته نفوس له امله اقتصاد بحرانی حالت کی او د ژوند ستندرد ډیر ټیټ،عمومی حالت بی ثباته او انسانی تلفات زیات دی. سیاسی مُدبر کادر نشته، حاکمیت په تنظیم شوی فساد کی ډوب او ناپوهی اوتعصبات د خپریدو په حال کی دي. په لوړو او حساسو پُستونو کی موجود کسان دنالایقی ترڅنګ دستنګر اوپه راز راز فسادونو ملوث او له مافیایی ډلو او یو شمیر یی بهرنیو استخباراتی حلقو سره تړلي دي. تجربه لرونکی او متخصص وګړی یا په فزیکی ډول له منځه تللی یا بهر ته مهاجر شوي دی یا بې اغیز اوبیواکه دي. د لوړو زده کړو او حرفوي تخصص کیفیت غیر قناعت بخش دی، نو ځکه د ملی او ماهر کادر د پوره کیدو چانس له منځه تللی دی.

داقتصاد له نظره نفوس د کار ځواک دی، د کمیت له پلوه دغه ځواک تر سترګو کیږی، خو د کیفیت له پلوه موثر او کارنده ندی. دغه دیموګرافیک انځور د هیواد بحرانی حالت ښکاره کوي.د اقتصاد له نظره نفوس په خپله کوم پرابلم ندی، بلکې د عاید توزیع، د نفوسو مهارت، ټولنیز او سیاسی ثبات، د منابعو

لپاره پلان او مساوات مهم دي. همدا اوس په لویدیز کی یو وګړی د یو بیوزله آسیایی یا افریقایی هیواد د یو وګړی په پرتله ۱۸ځله مقوی غذا مصرفوی، په همدی ډول د انرژی مصرف او په چاپیریال کی یی د پښو پل هم توپیر سره لری. په افغانستان کی توقع کیدونکی منځنی عمر ۴۷ کاله دی، حال دا چی په نوره نړیۍ (مثلاً امریکی کی) ۷۷کاله دی. په غربی هیوادو کی دلوړ عمر لرونکو لپاره د درملنی، تقاعد، هوساینځی، استراحت او دولتی سبسایډو لوړ امکانات مهیا دی، ، دلته به د پرمختللیو هیوادو سنی هرم وګورو:




په افغانستان کی تولدات زیات، خو د پوخ عمر مړینی ډیری زیاتی دی نوځکه زموږ د هیواد دنفوسو سنی هرم (population pyramid) د نورو هیوادو په شان ندی(دغه دوه وروستی شکلونه له لومړنی شکل سره مقایسه کړئ)، یعنی دنفوس ځیره ځوانه ده. په واضح ډول ښکاری چې د افغانستان او نورو هیوادو دژوند په معیار کې غټ توپیر لیدل کیږي. نن ورځ تعلیم، د انرژی مصرف، ښه خوارک /غذایی خوندیتوب، روغتیایی خدمات، د کور ډول(دکوټو شمیر)، د ورځنی ژوند وسایل(د کالیو مینځلو ماشین، یخچال، تلویزیون، عصر تشناب،مطبوعاتو ته لاسرسی،....) د ژوند اساسی معیارونه دي. بیوزله نفوس د فقر په شیطانی دایره کی ګیر دی، پانګه، ښهروغتیا او تکنالوژی نلری،دانرژی دلاسته راوړلو لپاره منابع نه لري او نشي کولای چې ډېر کار وکړي، نو ځکه یې عاید کم دی. د افغانستان د کارځواک دتعلیم او ملی شعورله پلوه ډېر کمزوري دی، دوی زیات اولادونه یو ډول اقتصادی اتکا بولی ، آن دا چې زیاتره ښځې بې تعلیمه او په مالي لحاظ په مېړه او یا د کورنی په کوم غړي(مثلاً زامنو) باندی متکي وي. هغه ښځې چې خپل عاید ونه لري دوی دزیاتو ماشومانو لرلو هیله لري ، ترڅو دماشومانو په واسطه یوه اندازه عاید تر لاسه کړي. نفوس د کار ځواک دی، دوی په تولید او د مولدې پانګې ایجاد کې مهم رول لري، خو دافغانستان نفوس ځینی وخت د نفاق او تیټ شعور له امله آن د ملی پانګې، ملی موسساتو او ملی شتمنی د نابودی لامل ګرځی(مثلاً د بریښنا ریاست وایی چی پروان کی خلکو د بریښنا د پایو په نړولو یوه اونی کی ملی اقتصاد ته یو میلیون ډالره تاوان ورساو)، حال دا چی نورو هیوادو کوی نفوس د خپل رغنده کار او مالیاتو په ورکړه خپل ملی اقتصاداو ملی عاید ته همدومره ګټه رسوي. دغه ډول وروسته پاتی تولنو کې نفوس د چاپیریال له منابعو ښه ګټه نشی اخیستلای، خو د ککړتیا لامل یی ګرځي، دوی په خپل ورځنی مصرف هم نه پوهیږی او عامه انتخاب ( public choice)کې هم استعداد نلری. نوګورو چې نفوس د ملی اقتصاد له پلوه بشپړ اصلاح ته ضرورت لری. په دې توګه د ملی مسایلو او اقتصاد تر څنګ؛ د چاپیرال ستونزه را پیښیږی. مثلاً دوی په ریسایکل کولو نه پوهیږی، اوس هم دوی ځنګلونه تبا کوی اوپه ښکار کولو سره د ژوند تنوع ته زیان اړوی، چې دا هم په غیر فني ډول سرته رسېږي چې خپله دغه کار دطبیعت دتوازن دخرابوالي سبب کیږي ، ځکه چې وحشي ژوي دطبیعي ایکوسیستم یو جز دی او ددې کړی ماتېدل ټول طبیعت ګډوډوي. دنفوسو په زیاتوالي سره خلک مجبور شوي چې دخپلو ضرورتونو داشباع په خاطر په طبیعت کې په افراطي ډول مداخله وکړي او د

طبيعت دنظام دخرابوالي سبب وګرځي. چې په دې لړ کې طبيعي ايکوسيستم (څړځايونه او ځنګلونه ) دکښت او اوسيدو په خاطر تخريب او له امله يېزراعتيشتمنې خاورې له منځه تللي او زياتې ساحې يې په دښتو بدلې کړې دي. دنفوسو زياتوالی د افغانستان دښارونو د ناډوله پراختيا لامل شو .دزمکی لاندی اوبو باندی زيات فشار راغلی اوهغه ککړې شوی، دښارونو هوا کثيفه ، ځنګلونه تخريب او څړ ځايونه محوه شول. دجګړو له امله د وسلو استعمالد اوږدې مودې لپاره وژونکی او تباه کوونکی يعنی د انسان او نورومختلفو ژونديو موجوداتو دمرګ باعث شوي دي او غير ژوندی چاپېريال يې داسې تخريب کړی دی چې ببرته جبران يې زموږله توان څخه وتلی او ناممکن ښکاري .، يومثال يې د ننګرهار چپرهار او هلمند کې ددغه ډول درنو وسلو استعمال و، چې په نتيجه کې دسيمې ځمکه او په ميلونونو ټنه خاورې تخريب شوي دي.دلته ددغو ستونزو په تحليل کې؛ يواځې دنفوسو اندازه مهم فکتور نه ګڼل کيږي ، بلکې دنفوسو شمېر په في واحد ځمکه کې(دنفوسو کثافت)هم يو فکتور دی.دجګړو له امله کليوالی سيمو څخه زيات شمير نفوس ښارونو ته را کډه شول. دغه عامل دنفوس يو بی تناسبه کثافت رامنځته کړ، ياني که چيري يو ميليون وګړي په يوه پراخه ساحه کې ميشت وي دهغوی تاثيرات په منابعو باندې نسبت هغه يو ميليون وګړو ته چې په يوه کوچنۍ ساحه کې ميشت وي کم دی. ممکن يو څوک فکر وکړی چې يواځنی لار د نفوسو کنترول دی، خو دنفوسو کنترول نه شي کولای چې دغه مشکلات حل کړي، بلکې دنفوسو تعليم او د تفکر، کار او فعاليت کيفيت ښه او اصلاح کول ضرور دی. وروسته تر ۱۳۸۱ کې شمير مهاجر هيواد ته راستانه شول، ورسره څه ناڅه دبهرنيومرستو له امله روغتيايی خدمات ښه اود مور او ماشوم صحت ډاډمن شو، چی ورسره يوځای دنفوسو په وده کې ډير ګړنديوالی راغی، خو د يوه بی کفايته او فاسد حاکميت له امله د نفوسو ميشت کولو(settlement) او د زمکو پاليسی ته توجه ونشوه، په نتيجه کی ډيرې زراعتی زمکې درهايشی، صنعتی، تجارتی او خدماتی استعمال لاندې راغلی، خو بالمقابل غير زراعتی ساحه بی استعماله پاتی شوه.man-land ratioاصلاً څوک پيژني نه.همدا وخت زيات شمير پخوانۍ دولتی تصدئ يا ليلام يا چورشوی، د زمکی مافيا د کوچنيو کروندګرو مليکتونه ونيول، له بلې خوا د زراعتی محصولاتو وارديدو اود هيواد دننه د بزګرانو حمايت ته توجه ونشوه، مخلانه او مضرانه ډمپنګ داخلی مولدين ماتې سره مخامخ اوزورواکو هم په بيلابيلو بڼو کوچنی زميناران مجبور کړل چی خپلی کروندې دوی ته ورپريږدي يا يې ورباندې وپلوری، زورواکو په دغو کروندو بلندمنزلونه اباد کړل. ددغی يو بل سره پيوستی او دوامداری منفی پروسې له امله زيات شمير زراعتی زمکی له لاسه ووتې اوس افغانستان د arable land له قحط سره مخ دی، حال داچې که مدبره ادره او سنجول شوی پاليسی موجوده وای، حالت بايد د دی برعکس او په زړه پورې وای.

په دې توګه د توليد لرونکی کار ځواک او يوبل مهم عامل (يعنی زمکه) چې يو بل سره تړلي، دواړه له لاسه ووتل. اوس د افغانستان دنفوسو څيره، د دوی اسکان، د کارځواک په توکه د دوی مولديت، د خپل منځی تعاملاتو او روابطو او ډيرو نورو اړخونو څخه زياتې ستونزې لري. باردوش نفوس لکه معيوبين (دباردوش د نورومثالونو يادول يوڅه خطر جوړوی نو ځکه يی له ليکلو تيريږيو) يوبل باردی چی زموږ اقتصاديی ځپلی دی، د اقتصاداً ډير فعال او موثر نفوس د ژوند کړکيچ (لکه کوچيان چی ددوی مالداری زموږ د اقتصاد د ملاتير جوړاو خو د تعصباتو له امله يې ژوندئ او نا ژوندئ پانګه او شتمني لاسي له منځه يووړل شوه) سره مخامخ شو، د اجناسو د توليد او مادی نعماتو د زياتوالی پر ځای دغولوونکو تشبثاتو زياتيدل(لکه دستفروشان) يو بل منفی عامل دی، د مارکيټ د نيمګړی طرز له امله د ميانجی غير قانونی فعاليت هم پر کار ځواک او هم په اقتصاد منفی اغيز لري. هغه ځوانان چې په روزنه يې ډير لګښت شوی او اوس ورڅخه د کار تمه کيږي، بهر ته د تېښتې په لټه کې دی. غيررسمی اقتصاد، تور او جُرمی اقتصاد د افغانی ټولنی يوه معموله برخه ګرځيدلی چې د نفوس په ايجادونکی ظرفيت او ملی عايد يې منفی اغيزه غورځولی ده.

په دې توګه افغانستان د نورو ستونزو ترڅنګ، دخپلو نفوسو برخه کې هم ستونزی لري. نوره نړۍ د خپل نفوس د سواد دسلنې لوړولو، اسکان، عامه روزنې او روغتیا، حرفوی مهارتونو، دنفوسو جغرافیایی ویش او نورو مواردو کی د سنجول شویو برنامو له مخې کار کوي، خو افغانستان کی لا اوس هم دسوادلرونکو سلنه پنځوسو ته نده رسیدلی.
دنفوسو مسئله یو لوی بحث دی، ډیر اړخونه لري او دغه موضوع د دیموګرافی او دنفوسو د مطالعاتو په څانګه کې لوی ځای لري. نفوس د یو هیواد پر اقتصاد، سیاست، پرمختګ، نړیوال دریځ او ډیرو کیفی او کمی شاخصونو اغیز لري، بالمقابل د هیوادونو اقتصاد، سیاست، اداره او نور خصوصیات پرنفوس اغیز لري.
م.م. د نفوسود مسایلو اهمیت اومبرمیت(urgency and importance of population issues) خپله آجندا کې شامل کړی دی. لومړی هدف یې؛ انسان، انسانی حقوق، دانسان درناوی او دانسان یا بشر مصئون او آبرومند ژوند دی. نورو هیوادو دخپلو نفوسو په برخه کې علماً تنظیم شوی پالیسیګانې تر کارلاندې نیولي دی، موږ دلته صرف هغو ستونزو ته اشاره وکړه چی نور هیوادونه ورسره مخامخ ندي، بلکې دا صرف زموږ ستونزې دي چې زیاتره ناامني او جګړې سره تړلي دي.
د دغو ټولو ستونزو د حل لپاره لومړنی ضرورت سوله او امنیت او دوهم ضرورت یومُدبر ملي حکومت دی. امید دی چی افغانان دغو دوو ارمانونو ته ورسیږي.